لیکوال: احسان الله آرینزی نېټه ۲۳-۰۱-۲۰۱۱

افغانستان او ګاونډیان

وایي چې څوك په خپله خوښه یو د بل ګاونډی نه جوړېږي، دا د خلقت خبره ده چې یو ولس یې د بل ولس په خوا کې خلق کړي او دوی ته یې د ښه ګاونډیتوب او تقوی وینا کړې ده.
افغانستان په سیمه کې څو ګاونډیان لري: پاکستان، چین، تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او ایران.
د افغانستان او هند د خلکو د لرغونې دوستۍ او ښو اړیکو په توسن، هند هم زموږ په ګاونډیانو کې راځي.
ګاونډیو هېوادونو ته په کار دي چې یو له بل سره ښه ژوند وکړي، یو د بل ملي حاکمیت ته درناوی وساتي، یو د بل ځمکنۍ بشپړتیا په رسمیت وپېژني، یو د بل په کورنیو چارو کې لاس ونه وهي، یو د بل مخالفین په خپله خاوره کې ونه ساتي، برعکس یو د بل د ثابت، پرمختګ او بریالیتوب له پاره زیار وباسي او په دې توګه په یوه سوله ییزه سیمه کې د خپلو خلکو د نیکمرغۍ، هوساینې، پرمختیا او برم شرایط برابر کړي او ټول په ګډه د یوې روښانه راتلونکې په لور وخوځوي.
افغانستان له بده مرغه د ثور له کودتا وروسته له ګاونډیو سره د ښه ژوند نیکمرغي له لاسه ورکړې او ډېر ګاونډیان غواړي چې د افغانستان د ورانولو، تباه کولو او بدمرغۍ په بیه خپلې ملي ګټې خوندي کړي او خپل سیال هېواد ته زیان ورسوي.
هغه څه چې اوس ډېر واضح دي، دا دي:
هند او پاکستان غواړي چې د کشمیر جګړه په افغانستان کې په مخ وېسي. دوی پوهېږي چې په سرحدي پوله کې مخامخ یا استخباراتي جګړه دوی ته ګرانه پرېوزي، له همدې امله د افغانستان د زعامت له کمزورتیا او خپلو پټو عمالو له موقعیتونو څخه ګټه پورته کوي او دلته د افغانستان د خلکو د وینو په بیه خپلې راتلونکې ګټې لټوي.
چین په دې لوبه کې د پاکستان شا ته ولاړ دی. چین په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالاتو او ناتو د پوځونو شته والی په خپله ګټه نه ویني. چینایان په دې پوهېږي چې امریکا او ناتو دلته ستري غوښتني، ستري ګټې او راتلونکې پلانونه لري. دوی دلته د پاته کېدلو موخې لري او غواړي چې د ایران، پاکستان، هند، چین او روسیې د اتومي وسلو د کنټرول له پاره، په افغانستان کې دایمي پوځي اډې ولري. چین په افغانستان کې د هند، امریکا او ناتو د اوږد مهاله پټ یا ښکاره شتون مخالف دی او په افغانستان کې خپلې ګټې لري.
د افغانستان شمالي ګاونډیان بېلابېل دریځونه لري. ترکمنستان له افغانستان سره ښې اړیکې لري. افغانستان غواړي چې د ګازو د هغه نل لیکې پروژه په بریالیتوب تطبیق شي چې د ترکمنستان ګاز به پاکستان او هند ته رسوي.
تاجکستان او ازبکستان هم د افغانستان له دولت سره اړیکې لري. دغو دواړو هېوادونو امریکا او ناتو ته اجازه ورکړې ده چې د دوی د خاورو له لارې افغانستان ته اکمالات وکړي. د تاجکستان او ازبکستان چارواکي چې همغه د شوروي اتحاد د وخت کمونستان دي، په افغانستان کې اسلامي غورځنګونه د ځان په زیان ویني او غواړي چې د افغانستان د جګړې د اوږدولو له لارې خپلې پولې خوندي وساتي.
لږ ها خوا روسیه پرته ده چې له افغانستان سره د اړیکو اوږد تاریخ لري. د شوروی اتحاد د واکمنۍ په وخت کې څه باندې یو لك او شل زره روسي پوځونو پر افغانستان یرغل وکړ او غوښتل یې چې خپل یو ګوډاګی د افغانستان پر خلکو وتپي، خو زموږ خلکو په یوه ستره او خونړۍ جګړه کې دا یرغل ونه مانه او شوروي پوځونه د ماتې په منلو سره له افغانستانه ووتل.
روسیه اوس هم په افغانستان کې ډېرې ګټې لري. روسان د افغانستان په اوسنۍ جګړه کې مخامخ ښکېل نه دي؛ خو په دولت کې د خپلو ملګرو له لارې هڅه کوي چې په افغانستان کې یو بیکاره، فاسد او ماتېدونکی دولت واکمن وي چې ناتو او امریکا خپلو ارمانونو ته ونه رسي او دوی د تزاري روسیې او د شوروي اتحاد د وارث هېواد په توګه، په افغانستان کې د امریکا او ناتو ماتې په سترګو ووینې او د دوی په غیاب کې بیا د نړۍ د یوه زبرځواك په توګه را څرګند شي.
زموږ لویدیځ ګاونډی هېواد ایران دی. ایران له امریکا سره ستره او اوږده دښمني لري. پر افغانستان او عراق امریکایي یرغلونو ایران ته ډېرې ګټې ورسولې. په عراق کې د صدام حسین سني او په افغانستان کې د اکثریت پښتنو سني طالبانو رژیمونه نسکور شول چې دواړو له ایران سره ستري ستونزې درلودې؛ خو خبره په همدې ځای کې پای ته ونه رسېده، د امریکا او ایران ستونزې دومره لویې وې چې دوی یې ان د جګړې تر بریده سره نژدې کړل؛ خو ایران هوښیاري وکړه، ایرانیان نه غواړي چې له امریکایانو سره په خپله خاوره کې و جنګیږي، ایرانیان غواړي چې امریکا په عراق او افغانستان کې په ګونډو کړي او د سر او مال درانده زیانونه ورته ورسوي.

دپاڼو شمیره: له ۱ تر ۲

ایران په تېرو دېرشو کلونو کې په افغانستان کې ډېره پانګونه کړې، په ملیونونو افغانان هلته مهاجر وو، ایراني پټو کړیو په دوی کې ډېر کار کړی، ایران دلته د ګوندونو شا ته پټ دی، ایران دلته رسنۍ لري، ایران دلته د دیني مدارسو تر شا خپلې ګټې ویني، ایران دلته بې له شکه جواسیس لري، د ایران ځنې مرستندویه ټولنې په افغانستان کې په سیاسي چارو بوختې دي، ایران د افغانستان دولت ته په کڅوړو کې پیسې ورکوي، ایران غواړي چې د افغانستان په ولسي جرګه کې حضور ولري، ایران د سلما او کمال خان د بندونو محافظین وژني، ایران طالبان ته وسلې او پیسې ورکوي، ایران په هر ژمي کې افغان مهاجرین وباسي، په خپله خاوره کې افغان مهاجرین ځوروي، افغانان ته درندې جزاوې ورکوي، د افغانستان د سوداګرو د تیلو ټانګرونه دروي او لنډه دا چې ایران څو مخیزه لوبه کوي، غله ته وایي غلا وکړه او د کور خاوند ته وایي چې هوښیار اوسه!

ایران په افغانستان کې د امریکایانو بریالیتوب نه غواړي. په افغانستان کې د امریکا او ناتو برې د ایران د ګټو په ضد دی، ایران په هره بیه چې وي، امریکا ته په افغانستان کې ستونزې جوړوي، په افغانستان کې د جګړې لمن پراخوي، د افغانستان د جمهور رئیس په څنګ کې چیغې وهي چې افغانستان اشغال شوی هیواد دی، ایران غواړي چې امریکا په افغانستان کې په یوه اوږده، پراخه، فرسایشي او ګوریلایي جګړه کې ماته او ځان ترې هوسا کړي.

چې خبره را لنډه کړو، هیڅوك د خدای له پاره کبان نه نیسي. کبان د ځان له پاره نیول کیږي. زموږ ګاونډیان زموږ په بده ورځ کې خپلې ګټې ویني. هر یو غواړي چې خپلې اوږد مهاله ګټې دلته خوندي کړي. له دې بد حالت څخه خلاصون ډېر دروند کار غواړي. اصلي جهاد په مخکې دی. دا جهاد د افغانستان د خلکو د ملي یووالي ټینګول دي. دا جهاد د یوه ملي، پیاوړي، هیوادپاله، متعهد او هوډمن زعامت رامنځ ته کول دي او دا جهاد د افغانستان د پرمختګ، برم او عزت له پاره د سترو کارونو سرته وسول دي. که داسې و نه شي د افغانستان د ډېرو ذواتو نومونه به په تاریخ کې په تورو کرښو ولیکل شي!

پای

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ